# د عبدالرحمان بابا تصوفي او عرفاني شعرونو ته لنډه کتنه

لیکوال: پوهیالی سراج احمد «ژواک»

**لنډیز**

تصوفي او عرفاني موضوعات د پښتو ادبیاتو د منځنۍ ادبي دورې د شاعرانو په شعرونو کې ډېر شاربل شوي دي، خو تر ټولو ډېرې ځرکونه د دې دورې د خوږژبي او ټولمنلي شاعر عبدالرحمان بابا په شعرونو کې لیدلی شو؛ که څه هم دا نه ده ځرکنده چې عبدالرحمان بابا په تصوف او عرفان کې د چا څخه لاسنیوی کړی او په دې برخه کې یې پیر او مرشد څوک ؤ؟ خو داسې ښکاري چې نوموړي په شعوري توګه په دې برخه کې زده کړې کړې؛ ځکه نورو ته یې د پیر او مرشد په درلودلو ډېر تاکید کړی او دغه راز د تصوف ټول مقامات یې ګام په ګام په خپلو شعرونو کې یاد کړي دي. هغه د همدغه خپل روحاني او عرفاني شخصیت په برکت سره په پښتنو کې د بابا لقب کټلی دی.

**بنسټیز ویونه: عبدالرحمان بابا، تصوف، جبر، اختیار، وحدت الوجود او وحدت الشهود.**

**سریزه**

د پښتو ادبیاتو د منځنۍ ادبي دورې بنسټ د تصوف او عرفان د ستر بلندوی بایزید انصاري په لاس ایښودل شوی دی؛ د دې کار پایله دا شوې چې نه یوازې د نوموړې د پلیونو شاعرانو په شعرونو کې د تصوف او عرفان موضوعات ډېر شاربل شوي؛ بلکې د دې دورې د دویم پیر او د اوسنۍ هغې په ډېری نورو شاعرانو یې هم اغېز کړی دی؛ زموږ د دې ادعا ښکاره ثبوت د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې د دویم پیر خوږ ژبی شاعر عبدالرحمان بابا دی؛ د هغه دېوان له سره تر پایه د تصوف او عرفان په وړانګو سره وړنګن دی. هغه ډېر د تصوف او عرفان داسې موضوعات چې تر ده وړاندې د روښاني ادبي ښوونځي شاعرانو په خپلو شعرونو کې شاربلي، شاربلي دي. چې په دې توګه یې د تصوف د پېژندنې سره یو ځای ستاسو ښاغلو لوستونکو مخې ته ږدم.

## تصوف او د رحمان بابا په شعرونو کې یې ځرکونه

تصوف د عربي ژبې د صوف (وړی) څخه اخیستل شوی دی او د دې ژبې د ګرامري قواعدو له مخې د تفعل له مصدره د وړۍ اغوستلو په معنا دی. د اصطلاحي پېژند په توګه له عذابونو څخه د انسانانو د ژغورنې او نجات د لارې لټون تصوف ګڼل شوی دی؛ که څه هم د اسلام د مبارک دین په لومړیو کې په دې نامه کوم څه نه ؤ؛ خو اوس یې د دې دین سره نه شلېدونکې اړیکې ساتلې.

تصوف نه یوازې په اسلامي دین کې خپلې ریښې غځولې؛ بلکې په هر مذهب او دین کې یې ځرکونه له ورایه ښکاري. د بشر د کمزورۍ دا ځانګړنه ده، چې د خپلو جسمي او روحي عذابونو څخه د خلاصون لپاره یوه وسیله لټوي، چې د هغې وسیلې د لټون لارې ته تصوف ویل کېږي؛ د بېلګې په توګه د هند د اسپاراګنات جوګ او د اسلامي تصوف (خاطر جمعي) چې د دواړو معناوې (فکر په یوه پورې تړل او په خدای پورې ارامېدل) یو له بل سره هیڅ توپیر نه لري او هغه څوک چې د اسلامي علومو پرته په نورو کې مطالعه نه لري، هغوی داسې فکر کوي چې د تصوف طریقې یوازې د اسلامي شعایرو او

د تفکر له طرز څخه راوتلې دي. (۴ : ۲۰) البته مسلمان صوفي او سالک د شریعت د مشعل په رڼا کې خپل محبوب ته غځېدلې لارې لنډوي او له اسلام پرته د نورو د ینونو صوفیان د خپل عقل او منطق په زور سره د هغه د وصال او حقیقت د موندلو هڅه کوي؛ په ټوله کې د عرفاني تمایل خاوندان د هستۍ د حقیقت په موندلو پسې لومړۍ په ځان کې ننوځي، دا نته الیګیري په خپل روح کې ننوت او د جنت، دوزخ او برزخ سیروسلوک یې وکړ؛ نیشاپوري شیخ فریدالدین عطار په خپل «منطق الطیر» کې د سیمرغ اسطوره یی سېمبول په مرسته روحي سفر پیل کړ او د معرفت اووه ښارونه یې ولیدل، چې له عشق څخه پیلېدل. (۸: ۸۹)

زموږ د موضوع اتل عبدالرحمان بابا هم په ځان کې د یوې تلپاتې هستۍ د حقیقت موندنې او وصال په لټه کې دی او نورو ته هم دا توصیه کوي، چې د دې حقیقت په لټه کې یوازې او یوازې د خپلو ځانونو په ننداره شي؛ لکه چې وایي:

چې مې ولیده د ستا د جمال عکس په خپل ځان کې
هم په دا د آینې په څېر روښان دی زما روح (۷ : ۲۸)

سالکان دې نندارچي شي د خپل ځان په تماشـــا (۷: ۴)

د دغې هستۍ د حقیقت لټه او وصال په عقل سره نه کېږي؛ ځکه عقل محدود دی او چاته دا اجازه نه ورکوي چې په ټولنه کې د مسلط نظام له حدودو څخه د باندې ووځي او دغه حقیقت بیا له دې حدودو څخه د باندې دی، که چېرته څوک غواړي چې دغې حقیقت ته ځان ورسوي، نو باید د رحمان بابا غوندې د عشق لمنه ونیسي.

و آسمـــــان ته لاس د عقل نه رسېږي
دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي (۷: ۱۱۳)

د انسان عقل ځکه محدود دی چې د معانیو او مفاهیمو د درک یوې محدودې درجې ته رسېدلی شي، د ځان او د ماوراء، یعنې د کائناتو د مطالعاتو توضیح تر هغه ځایه پورې کولای شي چې په ژبه او کلماتو بیانېدی شي، مګر کله چې له غیرعادي مشاهدې

سره مخامخ شي، هلته بیا ګونګ پاتې کېږي (۲/ ۱۱۲)؛

عبدالرحمان بابا چې وايي:

ستا د حسن په تعریف کې رحمان ګونګ دی له ادبه (۷: ۷۹)

اوس چې په دې لار کې د سړي سره عقل او حواس ملګرتیا نه شي کولای، نو په فلسفه خو د حقیقت او معرفت د موندلو همدا دوې وسیلې جوتې دي. نو سړی باید څه وکړي؟ دلته ده چې سالک په عرفان او تصوف کې له یوې بلې وسیلې څخه هم کار اخیستی شي، چې هغه وسیله «زړه» دی، زړه د انسان په عرفاني اصطلاح «عرش» دی. عرش هغه ځای دی چې په کې د ټولو تېرو، اوسنیو او راتلونکو پېښنو او حوادثو په اړه معلومات پراته دي، نو که څوک وغواړي چې دغه معلوماتو ته لاس رسي ولري، باید د عبدالرحمان بابا غوندې د خپل زړه عرش ته متوجه شي.

چې یې عرش او کرسي لاندې تر قدم دي
بالاتر دی هسې شـــــان قدم د زړه
د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لــــــویه
که اباد کا څوک ویران حـــــرم د زړه
که نـــــور خلق قدمونه ږدي په ځمکه
ما دی ایښی په اسمان قـــــدم د زړه (۷: ۸۹)

کله چې بیا دغو معلوماتو ته سالک او عارف لاس رسی پیدا کړي، نو د ټولو تېرو، اوسنیو او راتلونکو پېښنو او حوادثو په اړه به پوه او د عبدالرحمان بابا د دغه لاندې شعر عملي تصدیق به وکړي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام جم شي
په دا جـام کې ور ښکاره تمام عالم شـي (۷: ۱۳۸)

عبدالرحمان بابا عشق او مینې ته په ډېر ارزښت قایل دی، حتی حسن او ښایست د عشق او مینې زېږنده ګڼي؛ لکه چې وايي:

حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی
معشوقه که فرښته وي که چـــوری (۷: ۱۲۴)

د عشق او مینې لوړ مقام د وحدت او مساوات مقام دی، چې په هغې کې ټول بشریت یو ګډ کېږي او هر چاته په یوه سترګه کتل کېږي. دلته زه او ته یو تر بله توپیر نه لرو، کله چې زه د ځان په باره کې خبرې کوم، په حقیقت کې د ستا په باب غږېږم (۶: ۳۱۸):

واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانایې
اې عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی (۷: ۱۱۳)

هغه ګن مثالونه چې موږ یې وینو په اصل کې د یوه واحد حقیقت سیوری دی او اکثره د یوه حقیقت لاندې واقع کېږي؛ لکه په مادیاتو کې چې د اس، غوا او مېږې حقیقت د یوه کلي حقیقت لاندې چې حیوانیت دی راځي او په معنویاتو کې شجاعت، کرامت، عدالت او داسې نور د یوه واحد حقیقت، یعنې فضلیت لاندې راځي؛ دغه وحدت په بشریت کې هم لیدل کېږي او ټول افراد د «بشریت» په حقیقت کې سره شریک دي؛ (۶: ۳۱۹) لکه چې رحمان بابا وايي:

بنیادم په معنی واړه یو وجود دی
هر چې بل ازاروي هغه ازار شي (۷: ۱۳۲)

عشق بیا له بلې خوا د تصوف محور دی، کوم چې په هغې کې ټول کاینات د خدای (ج) جلوه ګاه ګڼل کېږي او انسان د کایناتو د یوه جز په توګه د خدای (ج) د صفاتو تر ټولو غوره مظهر؛ که هغه پر هر مذهب ګروهمن وي. له همدې کبله ټولې انساني نوعې د ذات د صفاتو مظهر دي او له توپیر پرته باید ورسره مینه وشي .پر جومات سربیره کلیسا، آتشکدې او مندرته هم د قدر په سترګه وکتل شي (۹: ۳۱):

هر زیارت لره چې ځم مراد مې ته یې
زه زایـــر د بت خانې او حرم نه یم (۷: ۶۷)

او یا:

خدای لره به ورشم په سودا د یار له مخه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بت خانه(۷: ۱۰۱)

عارف او صوفي هر کله ګوري او د مشاهدې په جولان کې د مصنوعاتو او جهان تماشا کوي؛ مګر هر وخت له مصنوعاتو څخه صانع ته او له موجوداتو څخه موجد ته ځي (۳: ۷۳۵):

مــــعرفت د خدای څرګند دی په هر څه کا
سترګې وخوره چې څوک هو مره نظیر نه کا (۷: ۱۶)

د صوفیانو اصلي موخه جنت نه وي؛ بلکې دا دومره ستونزې چې ګالي، یوازې او یوازې یې د حق سبحانه و تعالی د دیدار او وصال لپاره ګالي. علامه شبلي نعماني (رح) د زهد او تصوف ترمنځ توپیر داسې کوي: «زاهد په آخرت کې د جنت د خوندونو په هیله عبادت کوي، خو صوفي د خدای (ج) د رضا او وصال په ارمان شپې سبا کوي» (۹: ۲۸)؛ رحمان بابا وایي:

ځکه زاهد زهد کړي د یو جنت لپاره
ســـربندلی نشي په اوربل د جانانه (۷: ۱۰۱)

او یا:

د جنت تر حورو تېر شه که یار غواړې
خـــــدای دې نقد د چا نه کاندې نسیا (۷: ۲۰)

د زهد عرفاني او تصوفي اصطلاح له دنیوي چارو څخه د مخ اړولو په معنا ده، زاهد له دنیا او څه چې په هغې کې دي، له هغوی څخه مخ اړوي، یوازې او یوازې د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه له ځینو د نیوي څیزونو څخه ګټه اخلي؛ عبدالرحمان بابا زهد بنه نه ګڼي او وایي چې د نیا زموږ لپاره یوه وسیله ده، موږ کولای شو چې د دغې وسیلې د سم کاراوي له مخې خپل حقیقي محبوب ته نېږدې شو:

ښه د ه ښه د ه دا دنیا چې تو ښه د ه د عقبا
په دنیا کې بدي نشته که بدي نه وي له تا ( ۷: ۳ )

که د ریاضت لومړی کال له دنیا څخه مخ اړول او د یوه خدای (ج) خدمت کول دي، دویم کال یې بیا بېرته دنیا ته مخ اړول او د خلکو خدمت کول دي:

دست په دست که د خپل کار په درستول یې
لا تر ځان وړومبی ولاړ د بل په کار شه ( ۷: ۹۳ )

دریيم کال د جمعیت خاطر ته وقف دی، زړه یوه ته وسپاره او له ټولو څخه یې پرې کړه، مال د ګور تر څنډې دی او بیا اعمال. کمال د خاطر څخه د هر ډول وسوسې او بد فکر رفع کول دي، د خدای (ج) په لار کې یو اړخیز او یو زړه اوسه. د ده څخه پرته بل ته مخ مه ورګرځوه او د ده څخه پرته بل مه منه، چې ستا د بدن سره ګډ شي او ستا هستي ستا څخه پورته شي ( ۴: ۴۰ )؛ لکه رحمان بابا چې وايي:

د رحمان نظر په هیڅ باندې نه وي
چې نظر یې په جمال وي د آشنا ( ۷: ۲ )

کله چې د خاطر جمعیت کسب شو ، نو سالک د طریقت دویم مقام ته چې پرهیز دی رسېږي، پر ټولو مسلمانانو واجبه ده چې د حرامو خوندونو څخه پرهیز وکړي، خو صوفي ته ښایي چې هر ډول لذت بېله د حق د جمال د مشاهدې د لذت څخه که څه هم په شرع کې حلال دی حرام وګڼي؛ نو ځکه دریيم مقام چې ترک دی د مادیاتو د ترک څخه پورته دی؛ ( ۴: ۴۱ )؛ لکه چې رحمان بابا وايي:

که نظر کا څوک په کار د درویشانو
خود به ووینې وقار د درویشانو ( ۷: ۷۶ )

د مادیاتو د ترک څخه علاوه صوفي ته لازمه ده چې د نفس په هضم کې زیار وباسي:

د مکې سفر آسان دی مرد هغه دی
چې له ځانه سفر کاندي سفر دا دی ( ۷: ۱۰۸ )

د نفس وژل خپل ځان وژل نه دي، بلکې مړ کېدل د مخه تر مړ کېدلو دي، يعنې جهل، کبر، حسد او ريا د خاطر څخه لرې کول او په زړه کې صدق او خلوص ته ځای ورکول دي:

چې د مرگ سختی خواری دا ستا په خوا دي
اې رحـــــمانه ولې نه مرې لا پخوا (۷: ۲)

له بلې خوا په شريعت او طريقت کې نيت د عملونو د قضاوتونو معيار دی، حتی د اسلام د جزا په حقوقو کې د جرم د کېدو لپاره نيت اساسي عنصر دی، که د متهم په علم کې نيت او قصد موجود نه وي، د مجرم جزا ډېره لږېږي؛ نيت د هر عمل د موجوديت روح دی. (۲ : ۵۱۳) رحمان بابا هم د انسان د هرې چارې دار او مدار په نيت پورې تړلی گڼي، په دې اړه د نوموړي دا لاندې بيتونه د غور وړ دي:

کار همه واړه موقوف دی
د سړي په مدعـــــا (۷: ۴)

او يا:

که په دوه قدمه و مري هم حاجي شي
چاچې کړی د مکې په لوري نيت وي(۷: ۱۵۰)

مسلمان صوفيان د الله (ج) د وحدت له مخې په دوو ډلو وېشل شوي، چې يوه ډله يې وحدت الوجود بلل کېږي او بله هغه يې وحدت الشهود؛ په پارسي عبارت د لومړۍ ډلې يو خلص سمبول «همه اوست» او د دويمې ډلې «همه ازوست» دی؛ اسلامي تاخرينو صوفيانو د دغې دويمې ډلې «وحدت الشهود» نظريات خوښ کړي دي او وايي: چې له قران او سنتو سره د دوي افکار ډېر مطابقت لري او محقق علماء دا وايي: چې د وحدت الوجود طرفداران هم معذور دي او د دوی اقوال او خبرې که ظاهراً له شريعته سره برابرې نه دي، بايد تاويل شي او هغو بزرگانو ته بد ونه ويل شي. (۳: ۷۳۰)

د وجود او شهود په بحث کې لويه ستونزه د حق د صفاتو د عينيت او غيريت ده، چې ډېره گرانه ده؛ ځکه شهوديان، په ځانگړي ډول حضرت مجدد الف ثاني (رح) او ملگري

يې د خدای (ج) صفات د خدای (ج) پر ذات زايد ګڼي او وجودي صوفيان په تېره ابن عربي (رح) يې عين ذات ګڼي، نه صفات او وايي چې د «فعليت مطلقيه» چينه بېخي يوه ده، صفات صرف اعتبارات دي، چې په يوه ذات کې متصور دي. که صفات پر ذات زايد وګڼل شي، نو په دې سره پرذات د صفاتو معلول ګرځي او ذات به د صفاتو يوه مجموعه متصوره شي؛ هم هغه يو ذات رحيم، کريم، قهار، جبار او هر.هر څه په خپله دی (۹: ۴۰)؛ عبدالرحمان بابا د دې نظريې مرسته داسې کوي:

چې څه کاندي وارۀ خدای دی نور څوک نشته
رحـــمان څه دی څه يې واک څه يې اختيار (۷: ۵۲)

اويا:

وارۀ ته يې خــــندول که ژړول کړې
زه په خپله نه خـــندا کړم نه ژړا کړم
کـــه ته نه يې راته وايه باري څوک دی
زه دا هسې رنګ سرتور پښنې يبل چا کړم (۷: ۶۰)

د شهودي مسلک پر خلاف وجوديان، صفات په خپله سيوری او ظلال ګڼي او له سيوري څخه د سيوري پيدا کېدل ناممکن دي. (۹: ۴۱) د صفاتو د عينيت په باب د رحمان بابا دا شعر د غور وړ دی:

مخ دې بې خطه بې خاله هسې زېب کا
چې يې هيڅ حاجت په خط و په خال نشته (۷: ۸۱)

دبلې خوا د ولي وجود د خدای (ج) په انوارو کې داسې غرقېږي، چې د خپلې خودۍ هېڅ احساس هم نه شي کولای، وجود يې په بشپړه توګه د خدای (ج) په انوارو سره منور او د پورتني حديث شريف عملي تصديق لکه عبدالرحمان بابا وکړي:

هېڅ په ستر ګو نه وينم دا خپل صورت چې کوم دی
ډوب تر هسې حــده په انواريم ستــا د مــخ (۷: ۲۹)

د وحدت الوجود په فلسفه کې د مخلوق هر څه د تقدیر د ټاکلې نقشې له مخې پر مخ ځي؛ مخلوق نه شي کولای چې د دې نقشې پر خلاف د خپل اختیار له مخې یوه چاره سرته ورسوي او یايې په اړه اراده وکړي؛ په دې توګه مخلوق د تقدیر یوه نانځکه ده او هر څه مخکې له مخکې په تقدیر کې ورته ټاکل شوي دي. رحمان بابا هم په لاندې بیتونو کې د دې ګروهې مرسته داسې کوي:

کار همه په اراده د خدای موقوف دی
هیڅ موقوف نه دی، د چا په اختیار (۷: ۳۴)

او یا:

که هزار رنګه تالاش او تردد کړې
د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم (۷: ۶۲)

خو خبره داسې نه ده، د انسان د اختیار سرچینه د ده وجود دی، کله چې شر اختیاروي نو د خدای (ج) د مشیت خلاف عمل کوي (۱۰: ۷۹):

څاڅکی له اسمانه په هر چا ووري یکسانه
پرخه په وابنه شي په صدفو کې ګوهر دي (۷: ۱۱۱)

په اسلامي تصوف کې چې کله د صوفي د فیض سرچینه د الله سبحانه و تعالی اسم ظاهر وي؛ یعنې، د هغه تبارک و تعالی ذاتي صفات وي، نو صوفي ته د ډېرو اسرارو څخه پرده پورته کېږي، تر دې پورې چې په ټولو تېرو، اوسنیو او راتلونکو پېښو او اشیاوو لکه پورته مو چې ذکر کړل پوه شي؛ خو چې کله یې د فیض سرچینه د هغه تبارک و تعالی اسم باطن شي؛ نو دا ټول ورڅخه هېر شي؛ ځکه چې په دې وخت کې الله تعالی ته ډېر نېږدې شي، څومره چې ورته نېږدې کېږي، هغومره پرې حیرانتیا او ابهام غلبه کوي (۵: ۶۴)؛ عبدالرحمان بابا په دې باب وایي:

خبر نه یم چې یې راوستم له کومه
بیا مې کومې خواته استوي چې درومه

لکه ړوند چې لاس د بل په اوږه کېږدي
هيڅ ژوره لوړه نه وي ور معلومـــه
خـــدای راپېښه نړۍ لار کړه نا ليدلې
لکه ورانه ماشوړه چې وي سرګومـــه (۷: ۱۰۰)

پر صوفي د الله سبحانه و تعالی د اسم ظاهر او اسم باطن فيوضات هغه وخت راځي، چې دی په بشپړه توګه د خپل ځان تزکيه او تصفيه وکړي، يعنې اول خپل کور پاک کړي او بيا مېلمنو ته چې هغه د حق سبحانه و تعالی فيوضات او تجليات دي بلنه ورکړي؛ لکه رحمان بابا چې وايي:

چې دا سې بزرګ مېلمه و کور ته بيايې
اول غولی پاکيزه کړه له خاشـــاکه (۷: ۹۸)

له بلې خوا هر انسان ته له ازله علم ورکړل شوی وي، خو دا علم پټ وي، ځرګند نه وي، کله چې په عالم مثال کې مثالي حواس ورسره يو ځای شي، نو لږ څه روښانه شي، خو کله چې په مادي نړۍ کې مادي حواس ورسره يو ځای شي، نو په بشپړه توګه روښانه شي؛ ځکه عبدالرحمان بابا ځان له ازله مين احساسوي او د دې ادعا کوي چې زما مينه ازلي ده، که چېرته هغه د مادي نړۍ د عشق تجربې نه وی محسوس کړې، د ازلي عشق يادونه يې په خوا په خاطر کې هم نه شوی راتلی:

زه په تـــا باندې مين يم له ازله
نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتـدا (۷: ۱۰)

دلته که د عارف او صوفي مينه او عشق يوازې او يوازې له يوه خدای (ج) سره نه وي، دا د علم کمال او نور ټول مکافات ورته نه ميسرېږي، ځکه بشپړ اخلاص دی چې د خدای (ج) او بنده تر منځ ټولې شته پردې لرې کولای شي؛ رحمان بابا يې د مقام او ارزښت په اړه وايي:

که له مځکې و آسمان ته خاته ګران دي
دا ســـفر په يوه ګام دی د اخلاص

چې خــــبر کا مخلصان له علمه غیبه

دا همـــــه واړه الهام دی د اخلاص(۷: ۴۶)

اخوا چې عارف او سالک د الله تعالی د رحمت د پلوشو د نېږدې والي په تمه کې وي او د مختلفو روحاني منزلو څخه تېرېږي، په هر حال او منزل کې چې د ځاني او مالي تاوانونو او ستونزو سره مخامخېږي باید صبر وکړي، صبر د عرفاني سیر یو لوی او مهم منزل دی. په قران کریم کې د صبر په باره کې راځي: «والله مع الصبرین» (۱: د بقرې سورت: ۲۴۹)، یعنې خدای (ج) د صابرانو سره دی.

عبدالرحمان بابا هم دې قراني ایت ته په کتو سره صبر د بنده هیلو ته د رسېدلو لپاره یوازینی شرط ګڼي او په دې برخه کې تلوار او بې صبري بې پایلې. لکه چې وایي:

صبر ونیسه په مخکې که مراد غواړې

په تلوار به هیڅ ونکړې که تلوار کړې(۷: ۱۳۰)

له بلې خوا صوفیانه او عارفانه موسیقي او سماع چې د اسلامي تصوف او عرفان یوه ستونزمنه مسأله ده، ډېری صوفیان یې د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یوه ښه وسیله ګڼي، خو ځینې یې ناروا بولي؛ منځلاری صوفي او عارف امام غزالي (رح) یې د ځینو شرطونو په پام کې نیولو سره عارفانه موخو ته د رسېدلو لپاره روا بولي؛ د عبدالرحمان بابا هم په لاندې بیتونو کې صوفیانه موسیقي او رقص ته تمایل له ورایه ښکاري:

ساقي راکړه ته وماته جام د رقص

زه ارزو په زړه لرم مدام د رقص

موسقي علم خپل استاد را ته تعلیم کړ

رانمایې کړ هر تار مقـــام د رقص

لیاقت یې هر و ګړي څخه نشـــته

په لایقو باندې وي انـــعام د رقص(۷: ۴۷)

## پایله

د دې مقالې د پایلې په توګه ویلی شو، چې عبدالرحمان بابا یو بشپړ سالک، عارف او متصوف شخصیت ؤ، د تصوف او عرفان په ډګر کې د اعتدال پلوو صوفیانو او عارفانو په کتار کې ځای لري، د وحدت الوجود د لارې لاروی او په طریقت کې د روښان پیر سره تر ډېره هم نظری ښکاري؛ نو موړی نه یوازې د وجودي مسلک مخکښ دی بلکې په کلام کې یې شهودي څرکونه هم لیدل کېږي. د نورو متصوفینو غوندې یې د حقیقت په موندلو پسې دنیا ته شا نه ده کړې، بلکې لا یې د نیا د دې ټولمنلي حقیقت د موندنې لپاره یوه وسیله ګڼلې ده او په بشپړه توګه یې ترې نه کار اخیستی دی.

ښایي عبدالرحمان بابا به په تصوف او عرفان کې شعوري زده کړې کړې وي؛ ځکه په خپلو شعرونو کې یې د هغوی ټول مقامونه او اصطلاحات ځای پر ځای خوندي کړي دي او دغه رازیې په دې برخه کې د سالک او مرید لپاره د پیر او مرشد په درلودلو ډېر تاکید کړی دی. هسې خو هم له لویه سره تصوف او عرفان د اسلام د مبارک دین روح دی او په دې برخه کې هر مسلمان مکلف ګڼل کېږي، چې د دې روح ته په ننوتو سره تر بشپړ حقیقته ځان ورسوي.

## اخځلیکونه

۱: قرانکریم

۲: ایوبي، نادر. (۱۴۳۴). **عرفان**. کوټه: صحاف نشراتي مؤسیسه.

۳: حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴). **د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴: ځلمی، محمد ولي. (۱۳۸۷). **د کندهار مشاهیر**. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۵: داد محمد. (۲۰۱۱). **مقدمه التصوف**. کابل: جامعه ضیاء المدارس، دعلم او

عرفان خپرندويه ټولنې تخنيکي څانګه.

۶: روهي، محمد صديق. (۱۳۸۶). **ادبي څېړنې**. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۷: عبدالرحمان بابا. (۱۳۸۶). **کليات**. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

۸: لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹۳). **د بابا په شاعرۍ کې يوه سرګردانه اروا**. مجموعۀ مقالات. هرات: آمريت ارتباط و آګاهي عامۀ پوهنتون هرات.

۹: ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۸). **عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې يې څرکونه**. ننګرهار: ناګار خپرندويه ټولنه.

۱۰: ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۰). **د بايزيد روښان عرفاني، ادبي ښوونځی**. ننګرهار: ناګار خپرندويه ټولنه.